شریعت

SHARIAT WEEKLY

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

پنځم کال دوه پنځوسمه گڼه پرله پسې (۳۳۹) سه شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د ربیع الثاني (۲۳) د۱۳۷۹هـ ش کال د زمري دمیاشتی(٤) د ۲۰۰۰میلادي کال د جولای (۲۵)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) دیر نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

په سعودی کی میشتو افغانانو

له وچکالی ځپلو سره مرسته وکړه

ددی مرستـــی اندازه ۲۷٤۷۱ ډالره ده چی د افغـــانی سری میاشتی لخوا به ویشل کیږی

کابل – باختر :

په سعودی عربستان کی میشتو افغانانو په افغانستان کی د روانی وچکالی له امله له مصیبت ځپلو کسانو سره نغدی مرستی کړیدی.

په دی نغدی مرسته کی چی ۲۷ زره څلور سوه یو اویا دالره شته د روانی وچکالی له امله له مصیبت ځپلو کسانو سره د مرستی او ویش په مقصد د افغانی سری میاشتی د عالی تولنی د لوی ریاست په واک کی ورکړ شویده .

٤ مخ

په تخار کي :

مخالفین بیا یو بل ته ارم شول

په شکمش کي د سرکاتب او میر عالم او بنگي کي د عبدالغفار او عبدالمنان تر منځ خونړي نښتي رواني دي

د نښتو لامل د هغوي تر منځ د تر لاسه شوو پیسو غیر عادلانه ویش توجیه شوي دي

د ســـیمي اوســـدونکـــــــوته له دي نښتو نه زیـــات تـــــاوان رســـیدلي دي

د تخار ولایت په مربوطاتو کی د اسلامی امارت د مخالفینو قوماندانانو تر منځ سختی جگړی روانی دی او د هغوی د یو زیات شمیر افرادو د وژنی سبب شویدی.

د مخالفینو د قوماندانانو تر منځ مخالفتونه د هری ورځی په تیریدو سره نوی او پراخ اړخونه پیدا کوی لکه څنگه چی ددغو مخالفتونو په نتیجه کی په دی وروستیو وختو کی د مخالفینو د قوماندانانو هر یو قوماندان سرکاتب ، قوماندان میر علم او قوماندان عبدالظاهر تر منځ د تخار ولایت د شکمش او چال په سیمو کی سختی نښتی شویدی چی په نتیجه کی یی د دواړو لورو یو شمیر افراد وژل شوی او یا ټپیان شویدی.

خبر ځای زیاته کړه دغه راز د مخالفینو د دوو تنو قوماندانانو قوماندان عبدالقهار او معلم عبدالمنان تر منځ د تخار ولایت د بنگی په سیمه کی سختی

٤ مخ

چهارمین توربین فابریکه کود برق مزارشریف فعال گردید

مزار شریف – باختر :

چهارمین گاز توربین فابریکه کود برق مزار شریف دیروز فعال و به بهره برداري سپرده شد .

چهارمین گاز توربین فابریکه کود برق که از مدت نه سال به اینطرف غیر فعال بود بالاثر سعي و تلاش دلسوزانه انجنیران و کارگران کود برق در جریان بیست و دو روز ترمیم و فعال گردیده که دیروز رسماً توسط محترم ملا نیاز محمد کفیل ولایت بلخ افتتاح و به بهره برداري سپرده شد.

محترم مولوي عبدالرحمن

ص ٤

د بامیانو په ولایت کی :

تعلیــمی چارې د پر مختگ په حـــال کـــی دی

د پنجاب په ولسوالی کـــی ۵۸۰۰ زده کونـــکی په درســــــونو لگیا دی

د بامیانو ولایت د پنجاب ولسوالی په مربوطاتو کی نېږدی پنځه زره اته سوه تنه طالب العلمان په پنځه وبښتو دینی او عصری مدرسو کی په زده کړه بوخت دی.

دغه تکی د بامیانو

٤ مخ

محترم قاضي القضات ا.ا.ا :

باید قضات محاکم در صدد حل مشکلات مردم باشند

کابل – باختر :

شوراي عالي ستره محکمه تحت ریاست محترم مولوي نور محمد ثاقب قاضي القضات و رئیس ستره محکمه ا.ا.ا در مقر ستره محکمه دیروز دایر

ص ٤

د زابل ولایت په اړو خلکو :

۲۵ تنه غنم وویشل شول

زابل – باختر :

د زابل ولایت د مرکز کلات ښار له دیندارو خلکو سره د بشری مرستو په دوام پرون هم پنځه ویشت ټنه غنم ددغه ښار په مصیبت ځپلو خلکو باندی وویشل شول . په دغو مرستو کی چی ۲۵ ټنه غنم شته د نړی د خوراکی مواود د پروگرام د سازمان لخوا برابری شویدی او د زابل ولایت د مرکز کلات په

٤ مخ

د عاج په ساحل کی :

د اساسی قانون د تصویب په اړه ریفرنډم دوام لري

په افریقایی هیواد د عاج په ساحل کی پرون په پر له پسی توگه د دویمی ورځی لپاره ددغه هیواد د اساسی قانون په باب ټول پوښتنی دوام وموند.

دغه ټول پوښتنه د سازمان ورکولو د مشکلاتو له امله تمدید شویده .

عاج ساحل د کورنیو چارو وزارت د مقام د څرگندونو له

ص ٤

په کابل کي د روغتیایی اوبو د برابرولو په منظور :

دوی ژوری څاگانی کیندل کیږی

کابل – باختر :

د څښاک د روغتیایی اوبو د برابرولو په مقصد پرون د کابل ښار په مربوطاتو کی د دوو ژورو څاگانو د کیندلو کار پیل شو. د دوو ژورو څاگانو د

٤ مخ

د اسپانیا امنیتی چارواکو :

۲۸۰ غیر قانونی مهاجرین ونیول

د اسپانیا هیواد امنیتی مامورینو ددغه هیواد له سواحلو څخه حه د پاسه دوه سوه اتیا تنه غیر قانونی مهاجرین

ص ٤

د عدلیی وزارت خبرتیا

بو ځل بیا د ټولو هیوادوالو څخه احترامانه هیله کیږی چی خپل شکایتونه په ازاده توگه مونږ ته راوړی تر څو مونږ پوره غور پری وکړو. هر مسلمان ورور چی مونږ ته شکایت راوړی لاندی مراتب باید په نظر کی ولری :

۱– دا چی د ځینی اشخاصو سره دا فکر وی چی خائن ووینی هم شکایت پدی خاطر نه کوی چی پرده پر اچوی تر څو خدای«ج» پرده کوونکی ته ثواب ورکړی اما مساله داسی نده بلکی نبی کریم «ص» ویلی دی چی کــه څوک یو خائن ووینی او مربوط مقام ته خبر ورنه کړی څومره گناه چی د هغه خیانت کوونکی ده هغومره گناه ددغه

٤ مخ

نمایی از سرك مکروریان سوم شهر کابل که بعد از ترمیم آن مورد استفاده قرار گرفته است .

عکاس یوسف

در استرالیا از اثر سقوط یك هواپیما ۵ نفر هلاك کردیدند

درکشور استرالیا از اثر سقوط یك فروند هلیکوپتر نجات تمام پنج تن از سرنشینان طیاره به قتل رسیدند .

قرار بود درین هلیکوپتر یك مادر و پسر پنجساله اش به یك شفاخانه درقسمت شرقي استرالیا حمل شوند.

در هلیکوپتر دو تن از کارمندان طبي نیز قرار داشتند. در منطقه که این حادثه رخ داده غبار شدیدي منطقه را فرا گرفته بود.

شمالی کوریا غواړی له امریکا سره خبری وکړی

شمالي کوریا اعلام کړیدی چی د شمالی کوریا او د امریکا د متحده ایالاتو تر منځ د اړیکو د ښه والی په مقصد به د امریکا له متحده ایالاتو سره په ډیره لوړه سطحه خبری اتری وکړی.

د شمالی کوریا خبری آژانس په دی وروستیو وختو کی ویلی

٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

مخالفینو ته د نوی سا ورکولو امریکایی هڅی

کله چی د افغان مجاهد او با تور ولس د حوړولو، کړولو او په خپلو کی سره اخته کولو لپاره پردی لاسونه راوغځیدل او د اسلامی امارت مخالفینو ته د روس، هند، ایران او نورو مغرضو هیوادونو دلی دلی وسلی، مردکی او نور جنگی وسایل ورکړل شول خوله دی سره سره بیا هم دوي ورځ په ورځ د ولس له منځه گوښه او ډلی ډلی مجاهد قوماندانان د اختلاف له لیکو راووتل او له اسلامی امارت سره یی خپل ملاتړ څرگند کړ نو مغرض هیوادونه یی هم په ډیرو

۲ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترنظر لاندي
مسؤول مدير : عبدالرحيم «ثاقب»
مرستيال : غلام محمد فاروق
دبوي گڼي بيه : په هيواد کي (١٠٠٠) افغانی په پاکستان کی (٣) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ٢١٣٨١- توزیع او شکایات :٦٢٨٥٩
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مركز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

مرستو ستړی شول او هماغه و چی روس او امریکی په دی هکله خپلی تګلاری سره يو او د امارت په خلاف يی پراخ تبليغاتی کمپاين شروع کړ، تر څو له يوی خوا په افغانستان کی خپلو نوکرانو ته تکيه او ډاډګيرنه ورکړی او له بلی خوا په ملګرو ملتو او امنيت شوری کی نوری غاړی قانع او پر افغانستان يی نورو اقتصادی بنديزونو ته رهڅوی په دی لړ کی د امريکی د بهرنيو چارو مرستيال «کارل اندرفرت» وروستی څرګندونی چی د جولای د مياشتی په شلمه نيټه يی د سنا غونډی ته د يوه رپوټ په ترڅ کی وړاندی کړی، يوه ښکاره بيلګه ده نوموړی په خپلو خبرو کی د بشری حقونو، ښځو او تروريزم د سنډری سره دا ځل يو بل ټکی هم ور زيات کړ چی ګڼی خلک د طالبانو له حکومت نه په تنګ راغلی او دا رژيم به ډير ژر سقوط شی که څه هم نوموړی ظاهراً خپله ډيره خوابدی په دی ښکاره کړه چی اسلامی امارت د اسامه په هکله د امريکی پر غوښتنو هيڅ پروا نه راوړی او حال دا چی دا مسأله د امريکی د خلکو لپاره ډيره مهمه ده خو په حقيقت کی له دی ټولو خبرو څخه د دوی پوازنی هدف هماغه يوه خبره ده چی نوی يی ياده کړی او د مخالفينو ډاډ ګيرنه يی مطلب و ځکه نوموړی دی ته هم اشاره وکړه چی په امريکا کی ځينی حلقی دا هم وايی چی بايد د «امارت» له مخالفينو سره مرستی وشی، او بيايی ددی لپاره چی ځان يی طرفه وښيی دا هم وويل چی د «امارت» مخالفين هم په خپلو کی ژور اختلافات لری او موږ له هغوی سره هيڅکله هم د څه نظامی مرستو اراده نه لرو.

پورتنی خبری که سړی ښی په غور او ځيرنه وګوری نو په ډاګه څرګنديږی چی روس او امريکا مخالفينو ته د يو څه عمر ورکولو او پښو مضبوطولو لپاره څومره پروپاګند کوی او په دی کی پوازنی هدف دا دی چی بايد نور هم تر کلونو کلونو په افغانستان کی کورنی جګړی دوام وکړی او دا ميړنی او ديندار ولس پکی وسوځيږی.

خو تر کومه ځايه چی په افغانانو د حکومت کولو خبره ده نو دا په تجربه ثابته شوی چی هيڅکله هم د پرديو په فرمايشونو او يا په زور ورتپلو دلته چا حکومت نه دی کړی او کوم نظام چی د ولس په اراده او قربانيو جوړ شوی وی او د خلکو ملاتړ ولری نو بيا هغه په دغو درواغجنو تبليغاتو نه سقوط کيږی . نو په کار ده چی ټول مغرض او کينه کښ هيوادونه دا حقيقت ومنی چی افغان مومن ولس به هيڅکله هم د يو اسلامی نظام او حکومت نه پرته په بل شی راضی نه شی او د خپل اسلامی نظام د ټينګښت او بقا لپاره به له نظامی او اقتصادی ټولو ستونزو سره ښه په نره مقابله او مبارزه جاری وساتی او افغانان په دی خبره کلک ايمان لری چی په خپل اسلام او استقلال د ټينګ پاتی کيدو په صورت کی به خامخا د ټولو کفارو له دښمنی سره مخامخ کيږی او لا مخکی هم زموږ مسلمانانو د «شعب ابی طالب» د محاصری په شان ډيري اقتصادی کلا بندی ليدلی او زغملی دی خو ان شاء الله وروستی بری به بيا هم د مسلمانانو وی او بی دينه دښمنان به له شرميدلی ماتی سره مخامخ کيږی . خو په هر صورت اسلامی امارت يو ځل بيا امريکايی چارواکو ته د ټولو ستونزو د هواری په برخه کی د خبرو اترو وړانديز او ددی خبری پخلی کوی چی که واقعاً د مشکلاتو حل مطلوب وی نو د خبرو اترو او سلا مشورو په صورت کی به يی خامخا څه مناسب حل را ووځی .

له بلی خوا مخالفينو ته يو ځل بيا اعلانوو چی د پرديو مغرضينو په خبرو دی نه دوکه کيږی او د دښمنانو د نظامی مرستو په زور دی نور د خپل ملت د وژلو نه لاس واخلی او د هغه اسلامی امارت مرسته دی وکړی چی د هيواد د غوڅ اکثريت د ملاتړ نه برخمن دی او که په دی برخه کی څه وړی ستونزی په مخکی وی، موږ تل حاضر يو چی په روغه جوړه او خبرو اترو يی حل کړو .

د اطلاعاتو او کلتور وزارت په تعليمي سيمينار کي : ٢
د هيــواد د فرهنـګي فــعاليتونو راپـورتاژ

د شريعت اوونيزي درنو لوستونکو!

تيره اوونی د اطلاعاتو او کلتور وزارت په زيار ددغه وزارت د اړونده رئيسانو لپاره يو روزنيز اووه ورځنی سيمينار دائر شو چی د هيواد د ٢٨ ولاياتو د اطلاعاتو او کلتور رئسانو پکی ګډون کړی و .

زموږ خبريال له فرصت نه په استفادی سره په نوموړو ولاياتو کی د فرهنګی بهير او فعاليتونو په اړه له محترمو رئيسانو سره مرکه کړی چی په ګډه يی لولو !

دفراه په ولايت کی هم ددغه ولايت د اطلاعاتو او کلتور د محترم رياست له خوا د قدر وړ چاری او فعاليتونه سرته رسيدلی د فراه ولايت د اطلاعاتو او کلتور رئيس محترم الحاج عمادالدين اخندزاده خپلو اړوندو چارو او فعاليتونو د څرنګوالی په باب زموږ له خبريال سره په مرکه کی داسی څرګندونی وکړی :

د فراه ولايت د اطلاعاتو او کلتور رياست تشکيلاتی جوړښت په لاندی ډول دی :

اداری مديريت ، د شريعت غږ امريت ،د باختر آژانس مديريت، د جريدي مديريت او د امارتی مطبعی مديريت .

١ - د اداری مديريت : اړوندی چاری د هغو اوامرو او هداياتو په باب په وخت او زمان سره اجراات کول دی چی د پورتنيو مقاماتو له خوا ورته رسيږی ډير ژر يی اړوندو ځانګو ته په ليکلی بڼه خبر ورکوی.

٢ - د شريعت غږ محلی راډيو : د دغه راډيو يوه اووه کيلو واټه دستګاه لری او هره ورځ د سهار له ٧-٨ بجو پوری يو ساعته خپرونی لری چی په همدی ترڅ کی دينی، فرهنګی، طبی او تعليمی مطالب، او همدارنګه په اوونی کی دری ځله «د خلاصون لاره» خپرونه نشر ته سپاری، دغه راز د مرکز ځينی مهم خبرونه، تبصری ، محلی خبرونه، اعلانونه او ترانی هم خپروی. زموږ خپرونی په بهر کی د سيستان، بلوچستان او خراسان په ايالتونو او په هيواد کی دننه د فراه، هلمند، نيمروز، غور ، بادغيس، د هرات د غوريانو په ولسوالی، او حتی د باميانو او فارياب په ولايتونو کی په ښه ډول سره اوريدل کيږی ، بايد څرګنده کړم چی د شريعت غږ راډيو ودانی مو په ډير ښکلی ډول ترميم اورنګ کړی ده .

٣ - د باختر آژانس مديريت هم د فراه ولايت او مربوطو ولسواليو په سطحه خپل ورځنی ترتيب شوی راپورونه شريعت غږ د محلي راډيو آمريت ته د نشر لپاره سپاری. د يادونی وړ ده چی مهم خبرونه په مناسب وخت کی د مخابری په وسيله د مرکز د شريعت غږ راډيو ته مخابره کيږی

٤ - د جريدی مديريت : دغه مديريت د سيستان په نامه يوه جريده لری چی په ١٣٢٦ هـ ش کال د مرحوم قاضی عبدالقادر بليغ لخوا تاسيس شويده دا جريده چی په مياشت کی يو ځل د ٦٠٠ نسخو په تيراژ خپريږی محتوايی په پښتو او دری ژبو خبرونه، دينی مضامين، روغتيايی او تعليمی مطالب او داسی نور مضامين جوړوی. او له خپريدو وروسته ډير ژر پر ګډون کوونکو باندی ويشل کيږی او يو شمير يی مرکز او نورو ولاياتو ته په تبادلوی ډول ليږل کيږی.

امارتی مطبعه : د فراه په ولايت کی ٥٣ کاله پخوا يوه مطبعه تاسيس شوه چی تر اوسه پوری په دی مطبعه کی د چاپ يو پايکی ماشين فعالت کوی او کار ورنه اخيستل کيږی چی د ولايت او نورو مربوطو ادارو رسمی پانی او اسناد چاپوی ، د سيستان جريده هم د همدی ماشين په وسيله چاپيږی. څرنګه چی دغه ماشين ډير زوړ شوی دی ځکه نو اوس په سم او ښه ډول کار نه شی کولای په همدی سبب له يو لړ ستونزو سره مخامخ يو او په دی باب د مسؤلو مقاماتو پاملرنی ته سترګی په لاره يو.

٦ - تاريخی آبدات: د فراه ولايت د اطلاعاتو او کلتور رياست له خوا د دا ډول ټول اثار او آبدات مصون او خوندی دی او ساتنه يی کيږی . په دی هکله د عاليقدر امير المومنين فرمانونه ټولو مربوطو ځانګو او امنيتی ارګانونو او واحدونو ته په رسمی ډول ورسول شوی دی. د فريدون کلا يا د فراه زوړ ښار کافر کلا چی په ډير مهارت سره په اساسی ډول جوړه شوی د سلاش جوين کلا او دغه راز د راج بارج کلا هم د فراه په ولايت کی د تاريخی آبداتو له ډلی څخه شميرل کيږی او د خوندی او مصون ساتني ور دی.

همچنان محترم عبدالحی خطيبی مسول آژانس اطلاعاتی باختر ولايت غور در گفتگو با خبرنگار ما چنين گفتند : ولايت غور که يکی از ولايات مرکزی افغانستان است با هشت ولايت همسرحد ميباشد . اقليم سرد و خشک داشته و شغل اکثريت مردم زراعت و مالداری بوده و از نگاه مساحت به تناسب ساير ولايات کشور در رديف هفتم قرار دارد در چوکات اداری ولايت غور آمريت عمومی اطلاعات و کلتور در سال ١٣٧١ هـ ش ايجاد شد و تا کنون که هشت سال از عمر آن ميگذرد وظايف محوله خويش را مطابق به پاليسی جاری امارت اسلامی افغانستان در بخش های آژانس اطلاعاتی باختر ، راديو صدای شريعت، کتابخانه عامه و در سال جاری با ايجاد نمايندگی حفظ آبدات تاريخی به پيش ميبرد . چگونگی کار و فعاليت بخش های مختلف اين رياست ذيلاً توضيح ميگردد :

١ - آژانس اطلاعاتی باختر : کار و فعاليت اين بخش را به ضرب المثل فولکلوری آغاز مينمايم که ميگويند : « مسول آژانس با عصا وردا ، يعنی با قلم و کاغذ دست داشته، بدون شعبه وسايط نقليه و تيلفون ، پای پياده دروازه های ادارات امارتی را دق الباب نموده و از کار و فعاليت شان خبر ترتيب داده و به وسيله مخابره نظامی به مرکز مخابره مينمايد بايد گفت که خبر های مهم به زود ترين فرصت به آژانس اطلاعاتي باختر مرکز مخابره ميگردد .

٢ - کتابخانه عامه ولايت غور نيز در سال ١٣٤٤ هـ ش در چوکات مديريت معارف ايجاد و فعلاً متعلق به وزارت اطلاعات و کلتور بوده و دارای کتب دينی ، علمی ، ادبی ، اقتصادی، عربی، پشتو و انگليسی ميباشد. دريغا! که در اثر جنگهای قبلی مورد حمله قوای هوايی صفحات شمال قرار گرفته تعمير ان منهدم و اکثر کتب کتابخانه در زير خروار ها خاک خاکستر و آتش نابود شد ند فعلاً اين کتابخانه مجدداً فعال گرديده و با داشتن هزاران جلد کتب مختلف در خدمت علاقمندان و کتاب دوستان قرار دارد .

٣ - راديو صدای شريعت غور که دارای هفت کيلو واټ بوده به نسبت عوارض بسيار کم تخنيکی از فعاليت باز مانده و بعوض آن از آخذه امپلوفاير که لودسپيکر های آن در نقاط مختلف نصب ميباشد روزانه يک ساعت برنامه های مختلف از قبيل : اعلانات، مصاحبه موعظه ترانه ها ، تشريح و توضيح فرامين و دستور العمل های مقامات صالحه را نشر و بخش مينمايد که صرف در داخل شهر قابل شنيدن ميباشد اميد است که با فعال شدن مجدد راديو صدای شريعت ولايت غور نشرات ما آغاز و هموطنان دهاتی ما نيز از آن مستفيد گردند .

٤ - آبدات تاريخی : چون ولايت غور از ولايات باستانی افغانستان ميباشد و شاهان مقتدر چون : سلطان شهاب الدين غوری ، سلطان غياث الدين غوری و سلطان علاو الدين غوری در راه گسترش فرهنگ اسلامی خدماتي ارزنده را انجام داده اند در اين دوران هنر معماری جايگاه خاصی داشت . و يادگار های زيادی از آنان بجا مانده که تاريخ ميهن ما را پر بار تر ساخته است . از جمله ميتوان از مسجد جامع ولايت هرات منار جام ، و ده ها آبده ديگر در ولايت غور و کشور هند نام برد . منار جام يکی از مهمترين آبده تاريخي کشور است که به ارتفاع ٦٣.٣٠ متر با گذشت ٨٠٠ سال تا کنون در دل کوهپايه های غور با قامت رسا بيننده را به حيرت ميآندازد .

يکی از استادان وقت پوهنتون کابل خطر سقوط منار جام را به جهانيان اعلام کرد . از آن زمان تا کنون موسسات ذيعلاقه در حصه ترميم منار جام علاقمندی نشان دادند مگر عملاً دست بکار نشدند .

خوشبختانه در سال ١٤٢٠ هـ ق موسسه سپک تحت مراقبت معينيت فرهنگی وزارت محترم اطلاعات و کلتور توانست قسمت های سيل بر ان را با اعمار ديوار محافظوی از تخريب حتمی تا اندازه جلوگيری نمايد . گر چه اين کار مکفی نبوده و توجه و دلچسپی بيشتر به آن لازم است. طبق فرمان مقام معظم امارت اسلامی افغانستان از حفريات و کاوش های خودسرانه در اطراف منار جام تا حدی جلوگيری بعمل آمده اميد است که بتوانيم با کار عملی بيشتر از اين حفريات خودسرانه جلوگيری بعمل آيد.

٥ - در ولايت غور مطبعه وجود نداشته و اوراق مطبوع را برای ادارات امارتی از ولايت هرات تهيه مينماييم از آنجائيکه ولايت غور از نگاه موقعيت سوق الجيشی خويش خيلی با اهميت ميباشد و با مخالفين خط مرزی دارد لذا مخالفين با تبليغات خصمانه خويش بر عليه اهداف والای امارت اسلامی افغانستان مانند خنجر در قلب غوريها رخنه کرده برای خنثی نمودن تبليغات مخالفين با ارسال نامه ها ، دعوت نامه ها ، و تکثير فرامين عاليقدر امير المومنين از کاغذ سفيد و کاربن پيپر ذريعه دست استفاده مينماييم. برای رفع اين مشکل از مقام محترم وزارت اطلاعات و کلتور طالب يکپايه گستدنر يا ماشين فوتوکاپی شده اميد که در اين باره ما را بی نياز فرمايند.

همچنان محترم ملا خير الدين حقپال مسول رياست اطلاعات و کلتور ولايت لغمان در مورد چگونگی وضع فرهنگی و کلتوری آنولايت ضمن گفتگو با خبرنگار ما چنين اظهار داشتند : رياست اطلاعات و کلتور ولايت لغمان در بخش اداری خويش به فرامين، دستور العمل ها و مکاتيبی که وقتاً فوقتاً به اين اداره مواصلت نموده است به وقت و زمان اجراات نموده است. همچنان ذريعه پرسونل موجوده خويش توانستيم که در ساحه سرخکان يک مقدار اثار قديمه را از نزد قاچاقبران دستگير و عاملين آنرا به مراجع مربوط امنيتی تسليم نماييم.

همچنان يک مقدار زياد اجناس چوبی و غيره که از جمله آثار تاريخی ميباشد در ساحه ولسوالی دولت شاه کشف و به مرکز ولايت انتقال گرديد که بعداً به اساس هدايت مقام محترم وزارت اطلاعات و کلتور بداخل ٤٢ بوری به کابل منتقل گرديدند . همچنان جرايد و روزنامه های مرکز و ولايات که به ولايت لغمان مواصلت مينمايند به زود ترين فرصت به دواير امارتی توزيع و تسليم می شود . آمريت آژانس اطلاعاتی باختر اين ولايت گذارشات و اخبار خويش را وقتاً فوقتاً به راديو صدای شريعت و روزنامه ننگرهار غرض نشر حواله نموده است. از ولسوالی ها و ادارات امارتی گذارشات ترتيب و به مراجع مربوط تسليم داده شده است. بايد گفت که ما با روزنامه های معتبر مرکز چون شريعت ، هيواد و انيس نيز همکاری همه جانبه داريم.

کتابخانه عامه ولايت لغمان با وجود پرابلم های که دارد با داشتن ١٥٠٠ جلد کتب مختلف النوع در خدمت علاقمندان مطالعه قرار دارد .

نا گفته نبايد گذاشت که در اين اواخر از طرف رياست اطلاعات و کلتور اين ولايت «لغمان فرهنگی ټولنه» تاسيس گرديد که در هر پانزده روز يکبار جلسه آن داير ميگردد همچنان در هر ماه يکبار محفل مشاعره شعرا اين ولايت در رياست اطلاعات و کلتور داير ميگردد .

ادامه دارد

د هیواد د نظریاتي پولو ساتنه د ټولو افغانانو مسؤولیت دی

فـــاروق

زمونږ د گران هیودا ژوندی او لیکلی تاریخ تر ډیرو لرغونو زمانو پوری غځیدلی او په خپله غیږ کی یی ډیری کـارنامی، حماسی او ویاړونه ځای کړی دی زمونږ د ډیرو فـاتحینو سوبی او برغلونه یی یاد کـړی او د پردیو برغلگرو پـه وړاندی یـی ددی میړنی ولس د بی ساری مقاومت او سخت گوزار ورکـولو کیسی بیان کړی دی. دا ملت ځانگړی دود دستـور ، ثقـافت، دین او مذهب لری او په زرگونو کاله یی خـپلواک ژوند کـړی دی نو له همدی کبله دا ضرور ده چی باید د هر افـغـان د نظر پـه وړاندی د خـپل هیـواد نظریاتی پولی په څرگند ډول ترسـیم او هر یوه ته همدا خبری د یوازینی مـعیـار حیثـیت ولری په دی مـانا چی مونږ باید یوه داسی تله ولرو چی هغـه له شـخـصـی او ذوقی اختلافـاتو نه پاکه او په دائمي ډول وکولای شو خپل دین، هیواد او ملت ته وفـادار اوپا خـاین شـخـصـیتـونه او ډلی وربـاندی وتللی شو نو کـه په ریښتیا سره د هر افغان په وړاندی دا معیار ښه واضح او مـسـلم وی نو تل بـه کـولای شـو چی مـخلص او دوکـه مـار وگـړی سـره بیل کـړو او دا ځکه چی په خوله او دعوی خو هر سـړی او هره ډله د خـپـل دین، هیواد او ملت سره د وفا او مینی ناری سوری وهی خو باید دا مینه او وفـا په یوه داسـی بی طرفـه او مـعـیـاری تله وتلل شی چی په هغی کی د کوم ځانگړی شخصیت ، ملک ، قـوم او ډلی څه د خل او غـرض نه وی، بلکی ټول ولس ته د منلو وړ وی نو بیا کـه څوک په نومـوړی تلـه پوره وخـوت بس هماغه به ریښتیا هم مخلص وی او کنه د یو خاین او پردی نوکـر په تـوگـه به وپیـژندل شی ددی مقصد لپاره دا لاندی څلور شیان د یو معیار په ډول گڼلای شو :

۱- دین : د خدای «ج» فضل دی ټول افـغـانان مـسـلمـانان دی، اسـلام ددی ولس یو منلی دین او زمـونږ خلک سل پـه سلو کی په همـدی دیانت گـروهمـن دی نو هر هغـه څوک چی د خـپـل دین په هکله څه ناوړه نظر لری او یـا په کږه سترگـه ورته گوری، هغه ددی ولس پـه منځ کی شـبـه نـه شی تیرولای او هر چا چی د یو مشر په ډول له دین سره درغلی کړی د هغـه بخت او تـخت دلتـه ډیر ژر رانسـکور شـوی او ټول ولـس یی ډیر په منده پر خلاف را پاریدلی دی او هغـه یی دینه یی له منځه وړی او له پښـو غـورځولی نو دا مـعلومـه خـبـره ده چی دلتـه له اسـلامـه خـلاف څه خـبـری او فرمانونه هیڅکله هم نه چلیږی، او په همدی اساس ویلا ی شو چی ټول افـغـانان باید دا ټکی د یو مـعـیـار په ډول ومنی چی کـه هر څوک د خپل دین په اساساتو نه وی ولاړ نو هغـه د دی ولس او دی خـاوری خدمت نه شی کـولای، بلکی د فـعـالیت پایلـه به یی په ولس کـی د لانجـو، کـشـالو او وینی توییولو را منځ ته کیدل وی او بس. نو په کـار ده چی تر هر څه مـخکی باید د یو شـخص او ډلی دیانت وتلو چی کره خیږی او کـه کـوټه، او همـدغـه زمـونږ د هیواد د نظریاتی پولو له جملی څخه یوه مهمـه پوله او تر هر څه ضروری معیار دی.

> له خپل ملت سره مینه یو بل مهم معیار دا دی چی باید هر افغان شخصیت او ډله د مسلمانی سره سره د خپل ولس او قوم سره هم مینه ولری، زړه سوی پری کړی او خدمت ته یی چمتو وی، څوک چی د خپلو خلکو په نسبت له پردیو سره ډیره مینه او اخلاص لری، هغه هیڅکله هم ددی ملت دوست نه دی نو ټول ولس باید داسی کسان وپیژنی او په دی تله یی ښه وتلی چی څومره خیږی.

۲- له خپل ملت سره مینه : یو بل مهم معیار دا دی چی باید هر افـغـان شـخـصـیت او ډله د مسلمانی سره سره د خپل ولس او قـوم سـره هم مینه ولری، زړه سوی پری کـړی او خدمت ته یی چمـتـو وی، څوک چی د خـپلو خلکو په نسـبت له پردیو سـره ډیره مینه او اخلاص لری، هغـه هیـڅکله هم ددی ملت دوست نه دی نـو ټـول ولـس بـایـد داسـی کـسـان وپیـژنی او په دی تله یی ښه وتلی چی څومره خیږی.

۳- د خـپل دود دسـتـور، ثقـافت، تاریخ، ملی ویاړونو او عنعناتو احترام کول :

دریم معیـار دا دی چی باید ټول افـغـانان د خـپل فـرهنگ او ثقافت ساتنه او پالنه وکړی زمونږ تاریخ او فـرهنگ له ډیرو داسي ویاړونو ډک دی چی ژوندی ساتل او راتلونکو نسلونو ته رسـول یی په ملت کی د استقلال او خپلواکی روح ژوندی ساتی او کولای شی په خـپل قـومی تشـخص سره خـپل وحدت او یو والی وساتی او ملت د مرئیتوب او غلامی نه وژغوری دا هم د هر فـرد مـسـؤلیت دی چی په دی هکله کار وکړی، د یو شخص، ډلی او یا حکومـتـی رژیم سـره د کینی او دښمنی په وجه باید داسی ونه کړو چی خپله په خپل فرهنگ او کلتـور پسی راواخلو او په ملت کی پردیو منحطو رواجـــونو او کرغیړن ثقافت ته وده ورکړو . دا خـو د ټول ولس او یوه قـوم خـبـره ده، هیــڅوک باید په دی هکلـه خیـانت ونه کړی بلکی په هر حال باید په دی برخه کی کـار وشی په وده کی یی زحمت وویستل شی، د خپلو فرهنگی میراثونو ساتل هم مـونږ د اخـتـلاف او تشـتت نه ژغــوري او زمـــونږ د یووالی او وروړگلوی په ســاتلـو کی ډیره مرسته کوی نو په کار ده چی هغه وگړی‌وپیژنو چی د خپل فرهنگ او کلتور سره دښمنی کوی او د پردی رسم او رواج په خپرونه کی جدی فعالیتونه کوی او په همدی معیار سره کولای شو چی خاینی څیری وپیژنو.

٤- ځمکنی بشپړتیا : زمونږ هیواد افغانستان نومیږی او غازی احمـد شاه بابا په همـدی نامـه او ډیره پراخه جغرافیه مونږ ته امانت پریښی دی دا یو مـسـتقل امـارت دی، چی له یوه مرکزه اداره کیږی په نړی واله تـوگـــه یی پولی او بریدونه په رسمیت پیژندل شوی او هیچا ته دا حق نشتـه چی دلته نور کـور گی جوړ کـړی او یا دا خاوره په یوه او بل نامـه سره وویشی او یایی بل چا سـره ونښلوی د همـدی معینی او ټاکلی سیمی واکداری مونږ ته له خپلو نیکونو راپاتی ده او مونږ کولای شو په همدی خپل کورگی اوبورجل کی په بشپړ ډول د خپل دین، مـذهب او دود دسـتـور سره سم په خپلواکی او حریت سره ژوند وکـــړو او د پردیو لـه آزار او ضـرر څخـه ځان وژغـورو، نو ټول افغانان باید د همدی مقاصدو په خـاطر د خپلی خاوری او ځمکنی بشـپـړتیـا په لاره کی هلی ځلی وکړی او سرو مال قربان کړی ځکه چی لـه دی خـاوی پرته مـونږ آزاد ژوند نه شـو کـولای او خامـخـا به پردی دین، دود دسـتـور او ژبه را باندی تپل گـیـږی او د نورو په نوکری به اړکیږو په همدی اساس په کار ده چی د یو مسلم عنصر په ډول هر افـغـان به دی خـبـره کلک یقین ولری چی د خپل هیواد ساتنه او له هغـه څخه دفـاع کول زمـونږ ټولو یوه مـهـمـه دنده او مـسولیت دی او مونږ ټول باید دا احساس په ځان کی را پیـدا کـړو چی د یو ځانگړی شخص، ډلی او رژیم سره د دښمنی له کبله به د خپل هیواد تجزیی ته ملا نه تړو او په دی هکله به هیـڅکله هم د چا پرد یو سـلا مشورو ته غوږ نه نیسو .

د پورتنیو څلورو معیارونو په سپی پیژندلو او مراعـاتولو په ډیرّ ښـه ډول کـولای شـو چی د هیـواد دوستان او دښمنان سره وپیژنو او دا ځکه چی ټول رژیمـــــونه او حکومتـونه تل په خپلو مخالفینو په همدغـو څلورو معیـارونو کی د نیمگړتیـا تورونه لگوی او په دی ډول آخـر د عـام ولس نه لار ورکـه شی چی ښـه نو په ریښتیا سره ددی هیواد دوستان او مـخلصین څوک دی او خـــائینـان او دښـــمنـان یی څوک ؟ خو په هر صورت خامـخا به څوک د چا سـره او څوک د چا سـره څه دښـمنی او کـینـه لری خـو مهمـه دا ده چی په هیڅ وخت هم له دغـو څلورو شیانو سره خیانت او دښمنی ونه شی، ځکه دا خو د چا معلوم شخص او ډلی ملکیتونه نه دی بلـــــکی د ټول مـلت امـانتـونه دی نو په کـــــار ده چی ټول افــغــــانان یی په هر حــــال په ساتنه کی اخـلاص وکـــــړی او د دفـاع په لاره کی یی زحمتـونه او کړاوونه وگالی او همـدا څلور شـــــیان زمـونږ د هیواد نظریاتی پولی دی.

لیکوال : دکتور عبدالرحمن رافت باشا

ژباړن : بشار

۸

د اصحابو د ژوند پلوشي

د قیصر سره د عبدالله بن حذافه السهمی کیسه د عمر بن الخطاب رضی الله عنه په خلافت کی وه، او د هغه کیسه د قیصر سره له خورا عجیبو کیسو څخه ده!

عمر بن الخطاب «رض» د هجرت په نولسم کال د رومیانو جنگ ته یو لښکر ولیږه، او په دغه لښکر کی عبدالله هم گډون درلود.

د مسلمانانو د لښکر خبر د رومیانو مشر قیصر ته ورسید، او دا ورته وویل شول چی د اسلام لښکریان د ریښتینی ایمان او ټینگی عقیدی خاوندان او د خدای «ج» او رسول په لاره کی په ښه توگه د ځان ځاروونکی دی.

قیصر خپلو سړیو ته امر وکړ چی کوم وخت د مسلمانانو کوم تن د دوی په لاس کی پریوځی هغه ته دی ژوندی راوستل شی خدای «ج» وغوښتل چی عبدالله بن حذافة السهمي د رومیانو په لاس کی بندی پریوځی. کله چی عبدالله د بند د پیښی سره مخامخ شو رومیانو هغه خپل امپراطور ته ویوړ او ورته یی وویل :

دغه سړی د محمد ﷺ له پخوانیو ملگرو څخه دی چی د هغه دین یی منلی، او اوس زمونږ په لاس کی بندی پریوتی او هغه مو تاته راوست.

د رومیانو مشر تر ډیره عبدالله بن حذافه السهمی ته وکتل او بیا یی ورته وویل : زه تاته یوه موضوع وړاندی کوم. عبدالله بن حذافه السهمی وویل : هغه موضوع څه ده؟

قیصر وویل : زه له تا څخه دا غوښتنه کوم چی ته نصرانیت ومنی، که تا دا کار وکړ نو زه به تا ایله کړم، او تاته به ښه مقام درکړم.

بندی په لوړ همت او پوره استقامت وویل : دا ډیره لری او نه کیدونکی خبره ده، ماته مرگ له هغه چی ته می ورته بولی ډیر خوښ دی.

قیصر وویل : ته ماته ډیر پوه او غیرتی ښکاره شوی، که ته زما بلنه ومنی نو تا به په خپل کار کی شریک کړم، او نیمه پاچاهی به درکړم.

زولانه شوی بندی موسکی شو، او ورته یی وویل : په خدای سوگند، که ته ماته، هغه ټول چی ستا په لاس کی دی، او هغه ټول چی د عربو په واک دی په دی غرض راکړی چی زه د محمد ﷺ له دین څخه لاس واخلم نو زه به د سترگو د یوه رپ په اندازه هم د هغه له دین څخه لاس وانخلم.

قیصر وویل : اوس تا وژنم. هغه وویل : ته او خوښه دی. قیصر امر وکړ چی هغه په دار شی، او غشو ویشتونکو ته یی په رومی ژبه وویل : یواځی د هغه لاسونه په غشو ووهی.

په دغه وخت کی چی هغه په غشو ویشتل کیده قیصر به ورته د نصرانیت د منلو خبری کولی. بیا قیصر په غشو د هغه د پښو د وهلو امر ورکړ او قیصر به هغه ته د خپل دین د پریښودلو خبری کولی مگر هغه به نه منل.

بیا قیصر امر وکړ چی نور بس دی، او هغه له دار څخه راښکته کړی. بیا یی یو لوی دیگی وغوښت، او دیگی له تیلو څخه ډک په اور کیښودل شو. کله چی تیل ښه په ځوښ راغلل نو د مسلمانانو دوه تنه بندیان یی راوغوښتل او بیا د هغو یو تن په دیگی کی وغورځول شو او سمدلاسه د هغه غوښی په دیگی کی وشړیدلی، او هډوکی یی لوڅ پوڅ پاتی شول.

قیصر عبدالله بن حذافه ته وکتل، او ورته یی د نصرانیت د منلو بلنه ورکړه مگر عبدالله بن حذافه له پخوا څخه لا زیات له منسوخ شوی نصرانیت څخه خپله کرکه وښودله، او په اسلامی عقیدی یی خپل ټینگار وښود.

کله چی قیصر د هغه څخه مایوسه شو نو امر یی وکړ چی د خپلو دوو ملگرو په شان دی د خوټیدلو تیلو په دیگی کی وغورځول شی، کوم وخت چی عبدالله بن حذافه دیگی ته نژدی کړ شو نو سترگو یی اوښکی وکړی او حالت یی په بله شو، په دغه وخت کی د رومیانو یو تن قیصر ته وویل : هغه وژړل.

قیصر گومان وکړ چی گوندی هغه وېریدلی وی نو وی ویل : هغه ماته راولی.

کله چی عبدالله بن حذافه د قیصر په مخکی ودرول شو، قیصر هغه ته د نصرانیت د منلو خبره وکړه مگر هغه نصرانیت ونه مانه. قیصر وویل : افسوس تاته، څه شی وژړولی؟!

هغه وویل : زه دی وژړولم چی ما د ځان سره وویل : اوس ته په دغه دیگی کی غورځول کیږی، او په دی سره ته مری، حال دا چی زما هیله دا وه چی کاشکی د خپل ځان د ویښتانو په شمیر زما ساوی وای او زه پری ژوندی کیدلای، او بیا ټولی د خدای په لاره کی په دغه دیگی کی غورځول کیدلای. لوی سرکښ وویل : ایا په دی خوښ یی چی زما سر ښکل کړی، او بیا تا پریږدم؟ عبدالله بن حذافه وویل : ایا ټول مسلمان بندیان؟

هغه وویل : هو، ټول. عبدالله وویل : ما د خپل ځان سره وویل که د خدای د دښمنانو څخه د یوه تن سر ښکل کړم او په دی سره زه او د مسلمانانو ټول بندیان ایله کیږی نو په دغه کار پر خپل ځان څه ملامتیا او څه عیب نه وینم، بیا ورنژدی شو، او د هغه سر یی ښکل کړ.

د روم قیصر امر وکړ چی د مسلمانانو بندیان دی را ټول کړل شی او هغه ته دی وسپارل شی.

بیا هماغه شو چی د مسلمانانو بندیان عبدالله بن حذافه ته وسپارل شول او د قیصر له شر څخه خلاص شول. کله چی عبدالله بن حذافه السهمی او د هغه ملگری، عمر بن الخطاب «رض» ته ورغلل، او هغه ته یی د موضوع بیان وکړ، فاروق ډیره خوښی وکړه، او چی بندیانو ته یی وکتل نو ویی ویل : هر مسلمان ته ښایی چی د عبدالله بن حذافه سر ښکل کړی، او دا کار لومړی زه کوم.

عمر «رض» پاڅید او د هغه سر یی ښکل کړ.

پاتي لري

محترم قاضي القضات ا.ا.ا...

گردید .

شوراي متذکره با تلاوت آيات متبرکه قرآن عظيم الشان قرائت گرديده بعداً محترم قاضي القضات روي موضوعات و مسايل قضايي کشور صحبت همه جانبه نمود که در بخشي از سخنان عالمانه خويش فرمودند : عمل قضا به مقايسه اعمال و کار هاي ديگر خواهان توجه زياد و بيشتر ميباشد يك قاضي درآنوقت قاضي واقعي و تامين کننده عدالت کامل شده ميتواند که در حق ديگران طوري قضا نمايد مانند که در حق خود قضا مينمايند قضات محاکم بايد هميشه در صدد جستجوي حل مشکلات و هموار ساختن خصومات و منازعات مردم باشند ولو که درصورت باقي ماندن مشکلات مردم، براي قضات راه خلاصي از ملامتي نيز موجود باشد با آن هم در تلاش خلاصي خويش نبوده بلکه در کوشش حل موضوعات و مشکلات مردم بوده باشند.

وهم قضات بايد کار هاي قضايي و اجتماعي را بر کار هاي فردي و شخصي ترجيح داده باشند و خاصتاً در اوقات رسمي و اوقات کار وظيفوي بايد هيچ کس بکار شخصي خويش مصروف نباشد.

محترم قاضي القضات افزودند : در اين اواخر بروز حادثات ترافيکي، افزايش يافته و دريوران چه دريوران وسايط نقليه امارتي و چه دريوران وسايط شخصي از احتياط کار نميگيرند و تلفات مردم بي چاره و بيگناه از اين ناحيه روز بروز اضافه شده ميرود پس هرگاه کدام دريور امارتي کسي را توسط موتر بقتل برساند مطابق فرمان عاليقدر امير المومنين به پنج سال حبس محکوم مي گردد و هم ديت (خون بها) را از مال شخصي خود ميپردازد و اگر کدام دريور موتر شخصي کسي را توسط موتر خويش بقتل برساند بعد از آنکه مراحل حق العبدي را طي مي نمايد حق الله نيز از طرف محاکم به جزاي سخت و سنگين محکوم ميگردد بناً همه دروبران بايد نهايت احتياط نمايند.

همچنان به ادامه صحبت شان علاوه نمودند : بسا اوقات بعضي مردم بعد از ارتکاب جرايم و جنايات به خارجي از مملکت فرار مينمايند بايد بدانند که از اين طريق از مجازات خلاص شده نميتوانند زيرا ا.ا.ا اولاً کوشش مينمايد که از طريق سفارت و يا ديگر نمايندگي هاي خويش مجرمين را از خارج مطالبه نمايد و آنان را به داخل افغانستان آورده وبه پنجه عدالت بسپارند و در غير آن هرگاه اشخاص جاني و مجرم ولو که بعد از مدت طولاني عودت نمايند بدون با در نظر داشت انقضا و مرور زمان قابل محاکمه ميباشند پس بايد همه مردم در همه احوال از تمام جنايات جداً اجتناب ورزند.

بين مقامات فيجي و کودتاچيان مذاکرات صورت گرفت

مذاکرات مقامات فيجي و کودتا گران براي تشکيل يك حکومت جديد در آنکشور ديروز از سر گرفته شد.

در مورد جزئيات اين مذاکرات هنوز خبري به نشر رسيده است در همين حالا اردوي فيجي ضمن مخالفت با کودتا گران تقاضاي آنها جهت اشتراك در حکومت به تسليم دهي تمام سلاحها و مهمات آنها مشروط داشت.

به اساس توافق کودتاگران و اردوي فيجي بر آورده شدن هدف کودتا گران قبل بر اين به آزادي صدراعظم و اعضاي کابينه اش منوط بود.

په کامپ ديويد کي :

د فلسطينيانو او صهيونستانو تر منځ خبري دوام لري

د امريکا د متحده ايالاتو په کمپ ديويد کي د فلسطيني او صهيونستي لوړ رتبه مرکچيانو تر منځ د سولي خبرو پرون هم دوام وکړ.

دغو خبرو له هغه وروسته زيات تحرک پيدا کړ چي د امريکا د متحده اياﻻتو جمهور رئيس بل کلنټن د نړي د اتو سترو صنعتي هيوادونو د مشرانو په غونډه کي له ګډون وروسته واشنګټن ته ستون شو.

بل کلنټن واشنګټن ته له رسيدو وروسته ددغو خبرو د پر مخ بيولو په مقصد د فلسطينيانو له مشر ياسر عرفات او د صهيونست غاصب رژيم له صدراعظم ايهود بارک سره په جلا جلا دول خبري اتري وکړي.

ويل کيږي هغه سخته موضوع چي خبري ورباندي دوام لري د بيت المقدس څرنګوالي دي چي فلسطينيانو هغه خپل پايتخت اعلام کړيدي.

د فلسطين او صهيونستي د مرکچي هيأتونو تر منځ د سولي خبري له څوارلسو ورځو را پديخوا په کمپ ديويد کي رواني دي.

د عدليې وزارت ...

پرده اچوونکی هم ده چی خائن نه رسوا کوی او پرده پري اچوی .

۲- دا چی ځینی خلق بیا بالعکس داسی وی چی فقط په هر دکان باندی فقط یوه خبره واوری که حقیقت لری که یی نلری بس بیا نو دی په هر مجلس کی ګدوی چی داسی خیانتونه دی او داسی ظلمونه دی بیا چی یی سړی په صحیح معنی وږغوی چی ته واقعی یي خبر یی دی وایی زه نور نه یم خبر فلانکی ویل هغه فلانکی چی بیا وپوښتی وایی فلانکی ویل اخر هیڅ شی نه وی دا داسی شکایت هم جواز نلری ځکه نبی کریم «ص» وایی چی د انسان لپاره دغه درواغ کافی دی چی په کل ما سمع سره عمل کوی یعنی هر شی چی واوری بس هغه دی وایی نو لهذا زه یو ځل بیا په ډیر احترام د ټولو هیوادوالو څخه احترامانه هیله کوم چی د اسلامی امارت د مسولینو او منسوبینو په باب که د هر چا سره مستند شکایت وی موږ ته دی راوړی تر څو موږ یی انشاء الله غور وکړو او که فرضاً څوک خوف کوی بیا د عدلیی وزارت په دروازه کی د سمع شکایاتو صندوق نصب دی هغه ته دی خپل شکایت ور واچوی .

چهارمين توربين ...

رحماني رئيس تصدي کود برق مزار شريف گفت : ظرفيت توليدي انرژي برق اين توربين دوازده ميگاوات برق بوده که با فعال شدن آن حالا توليدات برق اين تصدي به سي ميگاوات ارتقا يافته است.

وي در مورد توليدات کوداين تصدي گفت : بالاثر زحمت کشي منسوبين و کارگران فابريکه توليد کود از پنجاه تن به يك صدو شصت تن بالا رفته و فابريکه توليد کوك و فانتاي تصدي متذکره در ٢٤ ساعت بيست و پنج هزار بوتل کوك و فانتا را توليد ميکند.

شمالي کوريا ...

دی چی د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیره مادلین البرایت او د شمالی کوریا د بهرنیو چارو وزیر پات نام سون به د چارشنبی په ورځ د اسیا د جنوب ختیځ هیوادونو د ټولنی د بهرنیو چارو د وزیرانو د کنفرانس په بهیر کی په بنکاک کی خبری اتری وکړی.

د امریکا د متحده ایالاتو او د شمالی کوریا تر منځ خبری څو اونی مخکی د شمالی کوریا د راکټی پروګرامونو له امله وځنډیدی.

شمالی کوریا د خپلو راکټی پروګرامونو د پرمخ بیولو لپاره د امریکا له متحده ایالاتو څخه د یو ملیارد ډالرو غوښتنه کړیده .

سعودي کي ميشتو ...

د افغانی سری میاشتی د عالی ټولنی لوی رئیس محترم ملا سید عبدالله اغا په سعودی عربستان کی د اوسیدونکو افغانانو ددغی مرستی له امله قدردانی وکړه او هیله یی څرګنده کړه چی زموږ نور هیواد وال هم له خپلو هغو هیوادوالو سره چی د روانی وچکالی له امله زیانمن شویدی بشر دوستانه مرستی وکړی او خپل دینی او هیوادنی پور ادا کړی .

دوي ژوري ...

کیندلو کار چی لګښت یی د امریکا په متحده ایالاتو کی د اوسیدونکو افغانی مهاجرینو لخوا او د جګړه ځپلو ماشومانو د خیریه موسسی د رئیس محترم نجیب الله عزیز لخوا تمویلیږی پرون پداسی حال کی چی د فواید عامی وزارت معین او ددغه وزارت یو شمیر رئیسان او چارواکی حاضر و د ټولنیزو علومو موسسی ته مخامخ او د پولی تخنیک موسسی ته مخامخ سیمه کی پیل شو .

د فواید عامی وزارت یو مسول خبر ځای وویل ددغو دوو نویو ژورو ځاګانو د کیندلو د کار په بشپړیدو او سمبالتیا سره به انشاء الله د څښاک د اوبو دکمښت له پلوه د کابل ښار د اوسیدونکو ستونزی تر یوی اندازی پوری لری شی.

د یو بل خبر له مخی د فواید عامی وزارت محترم معین ددغه وزارت د اوبو درسولو او کانلیزاسیون د تصدی چارواکوته لارښوونه وکړه چی د باغ بالا کارتی پروان ، د اریانا کارتی، او د مامورینو کارتی د سیمو د اوسیدونکو د اوبو د کمښت د ستونزی د لری کولو په مقصد د باغ بالا د لس زره مکعب متره اوبو له مخزن څخه دی د پنځه سوه مکعب مترو اوبو مخزن ته یو نوی مزی وغځوی او فعال کړی ددغو سیمو اوسیدونکی له یوی میاشتی راپدیخوا د څښاک د اوبو د کمښت له ستونزوسره مخامخ شویدی.

۲۵ ټنه غنم ...

ښار کی د زابل ولایت له والی محترم مولوی احمد جان اخند زاده سره په تفاهم کی په هغو دوه سوه پنځوسو مستحقو کورنیو باندی ویشل شویدی چی د روانی وچکالی د ناوړو اغیزو له امله سخت زیانمن شویدی.

د ګډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	USS75	USS150

په تخار کې ...

نښتی پیل شوی او په شدت سره دوام لری.

عینی شاهدان وایی دغه نښتی به پراخ اړخونه پیدا کړی لکه څنګه چی د بنګی په دره کی همدا اوس د قوماندان چوپان او قوماندان جان محمد د افرادو تر منځ سختی نښتی دوام لری چی ددغو جګړو له امله د دواړو لورو یو زیات شمیر افراد وژل شوی او یا ټپیان شویدی.

د عینی شاهدانو د څرګندولو له مخی ددغو جګړو قربانیان ددغو سیمو ملکی او بی ګناه خلک دی.

عینی شاهدان زیاتوی دغه نښتی په داګه ښیی چی د اسلامي امارت د مخالفینو د قوماندانانو تر منځ اختلافونه چی په حقیقت کی د هغوی د شخصی ګټو او د پیسو د تر لاسه کولو په خاطر کیږی څرګندو .. چی مخالفین د خلکو له وژنی او د هغوی د مالونو له لوټولو پرته کوم بل پروګرام نلری هغوی کومه اندیشه او نظر نه لری د هغوی اساسی پروګرام او اندیشه د پیسو ټولول او پردیو او د افغانستان د خلکو دښمنانو یعنی روسانو ته خدمت دی.

د باميانو په ولايت کي ...

ولایت د پنجاب ولسوالی ولسوال څرګند کړ او زیاته یی کړه د بامیانو په ولایت کی د اسلامی امارت د واکمنی له ټینګښت وروسته د خلکو د نیکمرغی او سوکالی په خاطر ژوره پاملرنه شویده او په دی لاره کی ارزښتناک ګامونه اخیستل شویدی.

د ټولګټو تاسیساتو او د ویجاړو شویو مدرسو بیا جوړولو او ټولنیزو او روغتیایی خدمتونو ته پاملرنه په دغو اقداماتو کی شامله ده .

ده زیاته کړه اوس د پنجاب ولسوالی په پنځه ویشتو دینی او عصری مدرسو کی نژدی پنځه زره اته سوه تنه طالب العلمان چی د لوست چاری یی د دوه سوه شپږ څلویښتو تنو مجربو استادانو لخوا په مخ بیول کیږی په زده کړه بوخت دی.

دغه راز د پنجاب محترم ولسوال وویل د پنجاب په ولسوالی کی د داړ منی سولی او ثبات په اعاده کیدو سره خیریه موسسو ته د کاری شرایط برابر شویدی او دغه موسسی کولی شی چی د بامیانو ولایت او ددغه ولایت د پنجاب ولسوالی له امارتی چارواکو سره په تفاهم کی د روغتیایی او کرنیزو خدمتونو او د ژورو څاګنو د کیندلو په برخه کی ددغی ولسوالی له خلکو سره مرسته او کمک وکړی.

د اساسي قانون ...

مخی د راپو ورکولو حوزی تر نن غرمی پری پرانستی وی .

په دی ریفرنډم کی د ګډون په خاطر پرون په دغه افریقایی هیواد کی عمومی رخصتی اعلام شوی وه .

دا لومړنی ټول پوښتنه ده چی د هغی د نتیجو له مخی به د روان میلادی کال د اکتوبر د میاشتی تر وروستیو وختو پوری بیا په عاج ساحل کی یو دموکراتیک سیستم ټینګ شی.

۲۸۰ غير قانوني ...

نیولی دی چی هلی ځلی یی کولی د افریقا له شمال څخه اسپانیا ته لاړ شی. د اسپانیا تلویزیون اعلام کړیدی چی دا د غیر قانونی مهاجرینو ډیر ستر شمیر دی چی د یوی ورځی په بهیر کی نیول کیږی.

زیاتره دغه افراد پداسی حال کی چی لا تراوسه پوری په سمندر کی و نیول شویدی.

له دی جملی څخه نږدی سل تنه له یوی هغی کوچنی بیړی څخه چی دوی یی لیږدول نیول شویدی او یو شمیر نور یی د اسپانیا د پولیسو لخوا ددغه هیواد په جنوبی سیمو کی نیول شویدی. د بهرنیو اتباعو دوه مړی هم د جبل الطارق د ابنا له سیمی څخه نیول شوی دی چی اسپانیا له افریقا سره نښلوی .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press